# د مقالې بشپړ عنوان باید حداکثر په دوو کرښو کې په Bahij Zar، ۱۶بولډ فونټ کې ولیکل شي.

لومړی لیکوال [۱]، دویم لیکوال [۲]، دریيم* لیکوال [۳]

۱- ........ دیپارټمنټ، ...... پوهنځی، .......... پوهنتون/اداره، د ولایت نوم، افغانستان (بهیج زر، ۱۱ اندازه)

۱- ........ دیپارټمنټ، ...... پوهنځی، .......... پوهنتون/اداره، د ولایت نوم، افغانستان (بهیج زر، ۱۱ اندازه)

**لنډيز** (په Bahij Zar، ۱۵ بولډ فونټ)

د مقالې لنډيز باید په یوه پراګراف کې تنظیم شي او پرته له دې، چې جلا سرلیکونه ولري، د موضوع مسأله باید (په دوو جملو)، هدف (دوو جملو)، میتود (دريې جملو کې د څېړنيزې طرحې، آماري ټولنې، نمونې، او د نمونې اخيستنې د ډول او وسائلو په ګډون) ، نتايج (دريې جملو کې له ارقامو او شمېرو پرته) او پایله (دوو جملو) کې ولیکل شي. لنډيز په حقیقت کې روایت دی، چې د تېرې زمانې څرګندونه کوي، ځانګړي عنوانونه باید ونه لري. د لنډيز متن باید له ۱۸۰ کلمو نه تر ۲۰۰ کلمو پورې وي، تر هغو زیات باید نه وي. (بهیج زر فونټ، اندازه ۱۲)

**کلیدي کلمې:** د کلیدي کلمو شمېر باید له ۴ نه تر ۷ کلمو پورې وي، د الفبا په ترتیب دې ولیکل شي، په ویرګول دې سره بېلې شي. (فونټ بهیج زر، اندازه ۱۴)

* Email: د مسؤل لیکوال ایمیل آدرس دې ولیکل شي

**سريزه** ( بهيج زر بولډ، اندازه ۱۵)

سريزه بايد لنډه، روښانه، موخه لرونکې او منظمه وليکل شي. ليکوالان بايد په سريزه کې د معلوماتو ډول، تسلسل او منطقي ترتيب ته پام وکړي. د سريزې په لومړۍ برخه کې ليکوال بايد په عامه توګه د خپلې څېړنې په اړه وضاحت وړاندې کړي، ورپسې خپله موضوع په تخصصي توګه معرفي کوي. د معرفي وروسته بايد د څېړنې ستونزه (مسأله)، د څېړنې ارزښت، د څېړنې موخې، د څېړنې پوښتنې او د اړتيا په صورت کې نظري بنسټ هم وړاندې شي. ( بهيج زر، اندازه ۱۴)

**د څېړنې شاليد** ( بهيج زر بولډ، اندازه ۱۵)

د ټولو هغو څېړنو او مطالعاتو پر موندنو مرور کول چې له دغې موضوع سره ارتباط لري او د هغو نيمګړتياوو څرګندونه کوي، چې پر بنسټ يې اوسنۍ څېړنه ترسره کېږي. دغه برخه هم په تحليلي توګه ليکلی شو او هم کولی شو مخکينۍ څېړنې په تحليلي –انتقادي توګه په لنډيز سره بيان کړو. ( بهيج زر، اندازه ۱۴)

**د څېړنو کړنلاره (ميتود)** ( بهيج زر بولډ، اندازه ۱۵)


د څېړنيزو مقالو يوه ډېره مهمه برخه هغه معلومات دي، چې د څېړنې د کړنلارې په برخه کې وړاندې کېږي. په ټوليزه توګه کړنلاره د څېړنې د برخو، ټولنې، نمونې او د نمونې اخيستنې د تګلارې، د نمونو اندازه کولو، اخلاقي ملاحظاتو، د معلوماتو د راټولولو، مديريت کولو او شننې د ډول، کمپيوټري سافټ ويرونو او د معلوماتو راټولولو د ابزارو په اړه معلومات وړاندې کوي. ( بهيج زر، اندازه ۱۴)

**د څېړنې مواد او موندنې (د مقالې اصلي موضوع): )** ( بهيج زر بولډ، اندازه ۱۵)

د څېړنيز مقالې لپاره راټول شوي معلومات په آماري، کيفي او ترکيبي توګه د څېړونکي له تحليل او تجزيې سره يوځای په همدې برخه کې وړاندې کيږي او څېړونکی خپله څېړنه تر

لاسته راوړنو او موندنو پوري رسوي. څېړونکی باید په دې برخه کې د راټولو شوو معلوماتو څخه د څېړنې موخو ته ځان ورسوي او هغه پوښتنې چې د څېړنې په تړاو یې مطرح کړې دي، هغو ته باید ځواب ووايي. ليکوال باید په دې برخه کې د څېړنې اخلاقي اصولو ته ډېر پابند واوسي، ترڅو څېړنه د يوې باارزښته څېړنې په توګه معرفي شي. (بهيج زر، اندازه ۱۴)

**۱- شکل.** شکلونه دې ټول په دې توګه ترتيب شي (بهيج زر، اندازه ۱۲)



**۱- جدول.** جدولونه دې ټول په دې توګه ترتيب شي. (**بهيج زر، اندازه ۱۲**، APA)

| – | ززززز |
| --- | --- |
| (بهيج زر، اندازه ۱۱) | -------------(بهيج زر، اندازه ۱۱) ---------------------- |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |

**پايله**

پايله بايد د څېړنې د موندنو او لاسته راوړنو بيانوونکې وي. په دې برخه کې د څېړنې موخو يا پوښتنو ته د ځواب ويلو په موخه د تر لاسه شوو موندنو او پايلو لنډيز او نتيجه وړاندې کيږي. په دې برخه کې بايد د موندنو د عملي کاروني موارد، د څېړنې محدوديتونه، او د هغو د پايلو تعميم ته پاملرنه وشي. همداراز، د راتلونکو څېړنو لپاره وړانديزونه او د موندنو د تطبيق لارې هم په دې برخه کې مطرح کيږي. (بهيج زر، اندازه ۱۴)

**اخځليکونه:**

پښتو او فارسي سرچينې دې په بهيج زر فونټ، ۱۳ اندازه او hanging 1cm کې په APA فارمټ کې ليکل شي. موږ به يې څو نمونې دلته وړاندې کړو:

که د کتاب ليکوال يو تن وي، مأخذ يې داسې وليکئ:

هاشمي، سيد محی الدين. (۱۳۹۵ هـ ل). د ليکوالۍ هنر. جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.

د متن په داخل کې يې داسې وليکئ: (هاشمي، ۱۳۹۵)

که د کتاب ليکوالان تر يوه زيات وي، بيا يې داسې وليکئ؟

سرمد، زهره، بازرگان، عباس و حجازی، الهه. (۱۳۷٦). روش‌های تحقیق در علوم رفتاری. تهران: انتشارات آگه.

د متن په داخل کې يې داسې وليکئ: (سرمد او همکاران ، ۱۳٦۷)

که له مقالې مو ګټه اخيستې وي، نو مأخذ يې داسې وليکئ:

زماني، سيدقاسم. (۱۳۹۸). جايگاه اصل انتظارات مشروع در سازمان جهانی تجارت. فصلنامه پژوهش حقوق عمومی، ۲۱(۶۴)، ۹-۳۲. doi: 10.22054/qjpl.2019.21762.1513

د متن په داخل کې يې داسې وليکئ: (زماني، ۱۳۹۸)

د ترجمه شوي كتاب مأخذ داسې ثبت کړی:

ماهوتيان، شهرزاد. (۱۳۹۰). دستور زبان فارسی از ديدگاه رده‌شناسی (ترجمۀ مهدی سمائی). تهران: مركز.

د متن په داخل کې يې داسې وليکئ: (ماهوتيان، ۱۳۹۰)

له قرآنكريم څخه د ګټې اخيستنې په صورت کې خپل مأخذ داسې وليکئ:

قرآنكريم. د يوسف، صلاح الدين ترجمه. (۱۹۹۰ كال). پاكستان: دارالسلام.

د متن په داخل کې يې داسې وليکئ: (د البقرې سورت: ۳۰ آيت)